# يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ القِيَامَةِ: لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې پېغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ القِيَامَةِ: لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هَذَا، وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ: أَلَّا تُشْرِكَ بِي شَيْئًا، فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي». "الله جل جلاله به د قيامت په ورځ هغه دوزخي انسان ته چې تر ټولو لږ عذاب ويني ووايي : که چېرته دې په ځمکه کې د ټولو شتو يو څه اختيار درلوده نو آيا نن ورځ به دې د فديې په توګه ورکړي وو؟ هغه به ووايي هو، نو وبه وايي: ما درڅخه لدې اسانه غوښتنه کړې وه، په داسې حال کې چې ته د آدم په شا کې وې چې: ماسره به هېڅ شی نه شريکوې، خو تا ونه منله مګر دا چې ما سره شرک وکړې».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې دوزخ ته له ننوتلو وروسته به الله جل جلاله تر ټولو د لږ عذاب خاوند ته ووايي: که چېرته دې ټوله دنيا او څه چې پکې دي درلودل نو آيا هغه به دې د فديې په توګه ورکړي وو تر څو له دې عذاب څخه خلاص شوای وې؟ هغه به ووايي: هو، نو الله جل جلاله به وفرمايي: يقينا چې ستا څخه مې لدې آسانه غوښتنه کړې وه، کله چې ته د آدم په شا (ملا) کې وې او ستا څخه ژمنه واخېستل شوه چې ما سره به هېڅ شی نه شريکوې، نو کله مې چې دنيا ته راوويستې انکار دې وکړ او ما سره دې شرک وکړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8315

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee